مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوڅ مرادزی

۲۰۲۳ / ۰۷ / ۲۵

# اسمان، فلک

یو دوست را ته لیکلي چې په شعر کې ولې اسمان او فلک کاروي. د هغه په نظر اسمان یا فلک ګني خدای دی. رینتیا هم ځیني خلک په لیکنو کې د اسمان، فلک، افاق، ګردون یا د هسک کلمو په کارولو او فهم کې ستونزه لري. ځیني بیا دا کلمې د خدای په معنی تعبیروي. ځیني نور بیا زړه نا زړه دي، کله یې د خدای او کله یې د پنځ شوي پتوګه کاروي.

په قران کریم کې افاق، فلک او افلاک (چې د فلک جمع ده) او عبري کلمې دي، هیڅکله د خدای د مترادف (Synonym) پتوګه نه دي کارېدلې، بلکه د بنې له مخې د پنځېدلو په توګه کارول شوي دي. هسک، ګردون، اسمان یې ناعربي او ناعبري کلمې دي چې دلته د کلمو د ریښو(Etymology) په اړه خبرې زموږ د بحث موضوع نه ده.

تر میلاده (۳۴۰ ) کلونه مخکې نامتو یوناني فیلوسوف ارسطو د ( افلاکو په باره کې) یو کتاب ولیکه. **هغه مهال ځمکه ثابته او د پینی (universe) مرکز ګڼل کېده او نور ټول ستوري د هغې پر محور په ګرځېدا تصور کېدل.**
بیا وروسته په دوهمه میلادي پېړی کې بطلیموس دغه مفکوري ته یو چوکاټ جوړ کړ. دې چوکاټ کې یې ځمکه په مرکز او د سپوږمی او لمر سربېره نوري پنځه سیاري (عطارد، زهره، مریخ، مشتري او زحل چې هغه مهال یوازې همدا پېژندل شوي وې) د ځمکې پر شاخوا پر مدارونو کې تنظیم کړل. په لومړي مدار کې سپوږمی، دوهم مدار کې عطارد، دریم کې زهره، څلورم کې لمر، پنځم کې مریخ، شپږم کې مشتري، اووم کې زحل او اتم کې نور ستوري د «ثابت ستوروFixed Stars، » په نوم ترسیم کړی شول.
د بطلیموس لخوا د سیارو او ستورو لاندې ترسیم وګورئ!
دا عکس د انګریز فزیکپوه Stephen H Hawking له کتابه ( A Brief History Of Time) څخه رااخیستل شوی دی.




,,,



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د بطلیموس په لاس د ځمکي او ستورو ترسیم او په دې اړه د هغه تیوري، په نوره نړۍ او عربي هېوادو کې وروسته دود شوه. په اوومه عیسوي پېړۍ او وروسته، وروسته اسلامي پوهانو د بطلیموس د افکارو تر اغېز لاندې د ځمکي، ستورو او اسمانونو په اړه نظریات؛ خپلو پلویانو ته داسې وځلول چې دوی له اسلامه رااخیستي. د هر یو اسلامي کار پوه لخوا پرې د وخت په هر پیر کې جلا جلا دیني ټاپې ولګول شوې!
همدارنګه د افغانستان دیني پوهانو، شیخانو او صوفیانو دغه نظرونه د خپلې دیني پوهې، د ټولنې د سنتونو، دودونو او کلتور سره ورګډ کړل او یوه داسې ګډوله یې ترې جوړه کړه چې د افغاني ټولنې د زیاتو لوستو کسانو سر هم پرې نه خلاصیږي!
زیات شمېرکسان فکر کوي چې دا نظریات له بطلیموس نه دي اخیستل شوي او له اسلام څخه ملایانو دوی ته ډالۍ کړي.
زموږ ستر صوفي او بې بدیل شاعر رحمان بابا هم وایي:
لکه لمر په **څلورم اسمان** لیده شي
محبت په سل حجابه کې عیان دی
رحمان بابا چې د پېښور په بهادرکلي کې زیږېدلی او په اوولسمه عیسوي پېړۍ کې یې شاعري کړې د څلورم اسمان او بیا هلته د لمر له موقعیت څخه د نوموړي خبرتیا بېخي عجیبه ده. دا خبرتیا د بطلیموس له اثارو څخه د مستقیمې مطالعې په وسیله نوموړي ته نه ده رسېدلې، بلکې دا تیوري په اسلامي جامه کې د ملایانو او صوفیانو په لاس رحمان بابا ته رسېدلې ده.
په ۲۱ پېړۍ کې هم د بطلیموس دا تیوري چې نوره زړه او له ښې لوېدلې، زموږ ټولنه کې د ځینو لوستو کسانو لخوا په همغه زړه بڼه تاییدیږي او په ملاتړ یې خپل ګریوانونه څیروي او تر خولې ځګونه بادوي!
دلته غواړم د اسمان، فلک، افاق، ګردون، هسک د کلمو د کاروني په اړه زموږ د پخوانیو څو تنه شاعرانو د کلام بېلګې وړاندې کړم. د شاعرانو کلام ځکه یادوم چې په ختیځ کې شاعران زیات له دغو کلمو سره سروکار لري.
البته د دوی لخوا دغه کلمې په یو واحد مفهوم نه دي کارېدلې. ښه دا ده چې د اضافه تبصرې پرځای، خپله د کلام بېلګې راواخلم:
**شیخ اسد سوري:**
د فلک له چارو څه وکړم کوکار
زمولوي هر ګل چې خاندي په بهار
ډېر مخونه د فلک څپېړه شنه کا
ډېر سرونه کا تر خاورو لاندې زار
چې یې ملاوې نه کږېږي په غښتلیو
دا فلک پر وکا څه کاري ګوزار
څه تیرې څه ظلم کاندې ای فلکه!
ستا له لاسه نه دی هیڅ ګل بېله خار
«پټه خزانه ۴۰ مخ»
**خوشحال خان ختک:**
که اسمان دې د زمري په خوله کې ورکا
د زمري په خوله کې مه پرېږده همت
+++
که لویي مې د اسمان سره سیالي کړه
په پستی تر تورو خاورو نه بدتر یم
+++
که یې درست د مټو زور راته ښکاره کړ
بیا فلک سره کشتي په خپل دستور کړم
شنه زمري او تور هاتیان په ځنځیر کېږي
بویه دا چې ځان فلک وته تربور کړم
+++
اسمان پیري لري زما پسره
مه ډېر غافل شه مه ډېر بې سره
+++
ما خپل سر تر فلک ولیده په پورته
د دې خوب مې معبره، کوم تعبیر دی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

+++
په فتنو ډکه توره اسمانه
لا به دې کله شي دا خونه ورانه
چي بل يو نوى جهان پيدا شي
ګوندي ځوک بيا مومى خلاصى له تانه
+++
ځو ځو ښادى دي په دا افاق کي
واړه بيا مومي په اتفاق کي
+++
چي فلک سره سر باسي
په همت کي هغه زه يم
+++
اسمان په ډول ډول پيرى کا
خوشحاله ګوره ګوندې وار در شي
+++
لا منت لرم په دا هم له اسمانه
ننداره د اباسين د سر کلا، نه
+++
که ښکلي ټولي شي سره لکونه
راباندې پرېوځي دا فلکونه
خپل يار به چيري پکي غلط نه کړم
که دا مي سترګي وي دا کلکونه
هيڅ فرياد د چا د ظلم جور مه کړه
به هر چا باندې چي شندي دا فلک دى
+++
که ګردش د اسمان دا دى چي ليده شي
که د خداى رضا په دا وي راغى وار
اسمان هرکله پيرى يکرنګي نه کا
ګه په کام د ګل جاروځي ګه به خار
**رحمان بابا:**
د سري د دښمنۍ توان مي نه وو
خداى راپيښه دښمني کړه د اسمان
+++
هيڅ وفا يي له هيچا سره ونه کړه
ترو رحمان به څه مانه کا له افلاکه
+++
دا تر لاندي به همه واړه چيت پيت شي
مګر سر وي چا وکښلى تر فلکه
+++
ګېډه وتړه په پړي سره کلکه
د روټى طمع ونه کړي له فلکه
له اسمانه چي ځوک طمع د وفا کا
دغه طمع يي طاعون ګڼه بي شکه
+++
دا اسمان دى د هغو په مدعا وي
چي په ما باندې يي کړى ستا اجبار دى
**حميد ماشوخېل:**
دا څه دور د ګردون راغى وقت نور شو
چي شيوه د عادلانو ظلم زور شو


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

+++
که يي کار په يوه رنګ وايی
نه به وايي اسمان ابلک
په هر چا دی يو يو غشی
د فلک دلاسه لک
+++
اول تا د بېلتانه په اور الوی کړم
بيا په خوله کې نفساني فلک راتوی کړم
واړه مړه تر ما پخوا فلک زده دی
زه يي هم د ستا د غم لېاره لوی کړم

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ